# اسلام
# د فطرت، عقل او نېکمرغۍ دین

بسم الله الرحمن الرحیم

آیا له ځان څخه دې پوښتنه کړې ده:
اسمانونه او ځمکه او څه چې په هغو کې له سترو مخلوقات څخه دي چا پیدا کړي؟ دا دقیق او پراخ نظام چا جوړ کړی؟
دا لوی کاینات څنګه د کلونو په تېرېدو د خپلو قوانینو سره منظم چلیږي او برقرار پاتې دي؟
ایا دې کائناتو خپل ځان پخپله پیدا کړی؟ یا له هېڅ څخه منځ ته راغلي؟ او یا په تصادفي ډول موندل شوي دي؟

## چا پیدا کړی یې؟

ستاسو د بدن او د ژوندیو موجوداتو په سیستمونو کې چا دا دقیق سیستم ځای پر ځای کړی دی؟
هېڅ هوښیار به دا ونه مني چې ورته وویل شي: دا کور په خپله جوړ شوی، پرته لدې چې یو څوک یې جوړ کړي! یا ورته وویل شي چې: دا کور هېڅ شي (نشت) رامنځته کړی! نو ځینې خلک څنګه په هغه چا باور کولی شي چې وایي: دا لوی کائنات پرته له خالق څخه پیدا شوي؟ یو عقلمند انسان څنګه منلی شي چې ورته وویل شي: د کائناتو دا دقیق نظم په تصادفي توګه رامینځته شوی دی؟
یقینا چې د دې ټولو کائناتو او څه یې چې تر شا دي یو لوی خالق او چارسمبالی شتون لري، چې هغه الله سبحانه وتعالی دی.
او پاک رب موږ ته رسولان رالیږلي او پر دوی یې آسماني کتابونه (وحې) نازله کړې، چې وروستی یې قرآن کریم دی، هغه کتاب چې الله پاک پر خپل وروستي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی او د هغه د کتابونو او رسولانو له لارې یې:
موږ ته خپل ځان، خپل صفتونه او خپل حقونه راپېژندلي، او په خپل ځان یې زموږ حقونه راته بیان کړي دي.
• او موږ ته یې لارښوونه کړې چې دی هغه رب دی چې مخلوقات یې پیدا کړي، او دا چې هغه ژوندی دی او نه مړ کیږي، او مخلوقات یې په قبضه، واکمنۍ او د کنټرول لاندې دي.
او موږ ته یې فرمایلي چې د هغه له صفتونو څخه یو یې علم دی، نو هر څه یې په خپل علم کې راګیر کړي، اورېدونکی دی هېڅ شی ترې په ځمکه او اسمان کې پټ ندی.
او رب هغه تل ژوندی او پالونکی ذات دی چې د هر مخلوق ژوند یوازې د هغه لخوا دی او دا چې هغه تل ژوندی، پاینښت لرونکی ذات دی چې د هر مخلوق ژوند پر هغه پاک ذات ولاړ دی، الله تعالی فرمایلي:(اللَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ) (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ)الله هماغه (ذات) دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالوونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوک وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهیږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګیرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسۍ یې پر اسمانونو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو ساتنه یې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی.[سورة البقرة:255].
• او موږ ته یې فرمایلي چې دی هغه ښتن دی  چې د بشپړتیا په صفتونو ستایل شوی، موږ ته یې عقلونه او داسې حواس راکړي چې د هغه عجب مخلوقات او قدرت پرې درک کړو، کوم چې موږ ته د هغه عظمت، ځواک او د صفتونو بشپړتیا را په ګوته کوي، او په موږ کې یې داسې فطرت کېښت کړی چې د هغه په کمال دلالت کوي او دا چې هغه په نیمګړتیا سره نه شي یادېدلی.
• او موږ ته ئې راښودلي چې ښتن د آسمانونو د پاسه دی نه په نړۍ کې دننه دی او نه پکې نړۍ منحل ده.
• او موږ ته یې خبر راکړی چې موږ باید هغه پاک ذات ته تسلیم شو، هغه زموږ او د کائناتو خالق او چارسمبالی دی.
نو خالق ذات لره د عظمت صفات دي او هېڅکله د اړتیا یا نېمګړتیا په صفتونو نه یادول کیږي، رب نه هېروي، نه خوب کوي او نه خواړه خوري، او شوني نده چې ښځه یا زوی ولري؛ ټول هغه معلومات چې د هغه د عظمت سره په ټکر کې دي؛ د هغې صحیح وحی برخه نه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا راوړل شوې ده.
الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:(قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ * (قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ *(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: هغه الله یو دی.ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ * ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ *الله بې پروا دی.لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ * لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ *نه یې (څوک) زیږولی او نه دی (له چا) زیږول شوی دی.وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ) وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ)او د ده هېڅوک سیال (او) برابر نشته.[الإخلاص: ١-٤].
که چېرته تاسو په خالق ښتن باور لرئ ... نو ایا تاسو کله په دې هم فکر کړی چې ستاسو د پیداینټ هدف څه دی؟ او الله تعالی له موږ څخه څه غواړي، او زموږ له وجود څخه موخه څه ده؟

## ایا شوني ده چې الله تعالی موږ یې پیدا کړي یو او بیا دې راڅخه بې پروا شي او همداسې مو پرېږدي؟ ایا دا کېدی شي چې الله تعالی دا ټول مخلوقات پرته له کومې موخې او هدف څخه پیدا کړي؟

حقیقت دا دی چې لوی خالق  " الله" جل جلاله موږ ته زموږ د پیداینټ په اړه خبر راکړی چې هغه د یو الله عبادت دی، او دا چې زموږ څخه څه غواړي! او خبر یې راکړی چې هغه ذات یوازې د عبادت مستحق دی، او د پیغمبرانو له لارې یې پوه کړي یو چې څنګه د هغه عبادت وکړو؟
څنګه کولای شو چې د هغه د حکمونو په تعقیبولو او د ممانعتونو په پرېښودلو سره هغه ته نږدې شو؟ څنګه د هغه رضایت ترلاسه کړو؟ د هغه له عذابه ووېرېږو، او له مرګه وروسته یې موږ ته زموږ د برخلیک په اړه خبر راکړی دی؟
هغه موږ ته فرمایلي چې دا دنیوي ژوند یوازې ازموینه ده، او دا چې ریښتینی او بشپړ ژوند به له مرګ نه وروسته وي.
او موږ ته فرمایلي چې چا د الله تعالی د امر سره د هغه عبادت وکړ او له هغه څه یې ډډه وکړه چې ترې منع کړی یې دی نو هغه به په دنیا کې ښه ژوند او په آخرت کې ابدي نعمتونه ولري، او چا چې د هغه نافرماني وکړه او کفر یې پرې وکړ نو په دنیا کې به بدبخته او په آخرت کې به ابدي عذاب ولري.

# او څکه چې موږ پوهیږو چې شونې نده پدې دنیا کې ژوند وکړو او هېڅوک دې د خیر او شر جزا و نهویني؛ داسې چې نه ظالم ته جزا ورکړل شي او نه نیک عملو ته اجر او بدله.

او موږ ته زموږ پروردګار فرمایلي چې د هغه رضایت ترلاسه کول او د هغه له عذابه خلاصون په اسلام کې له داخلېدو پرته ناشوني کارونه دي، اسلام هغه ته تسلیمېدل، یوازې د هغه واحد ذات عبادت کول چې شریک نه لري، هغه ته په پیروۍ سره غاړه ایښودل او په رضایت او قبولۍ سره د هغه د شریعت پیروي کول، او هغه ذات موږ ته فرمایلي چې له اسلام پرته له خلکو بل دین نه مني، الله تعالی فرمایلي:(وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ) (وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ)او څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دین غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی.[آل عمران:85].

که څوک نن سبا هغه څه ته وګوري چې ډېری خلک يې عبادت کوي؛ نو وبه ویني چې څوک د انسان عبادت کوي، څوک د بت عبادت کوي، څوک د سیارې عبادت کوي او داسې نور، نو عقلمند انسان ته نه ښايي چې له رب العالمین پرته د بل چا عبادت وکړي، هغه ذات چې په صفاتو کې بشپړ دی، نو څنګه یو څوک د خپل ځان په څېر او یا له ځان څخه ښکته د بل مخلوق عبادت کوي! بشر، بوت، ونه او حیوان هېڅکله معبود کیدلی نه شي !

نو ټول هغه دینونه چې خلک يې نن سبا عبادت کوي - پرته له اسلام څخه - د الله تعالی لپاره د منلو وړ ندي، څکه چې دا د انسانانو لخوا رامینځته شوي دي او یا دا چې اسماني دینونه دي خو د انسانانو لخوا پکې لاسوهنه شوې ده، او اسلام خو د رب العالمین دین دی، نه تغیرېږي او نه بدلېږي، او د دې دین کتاب قرآن کریم دی، هغه کتاب چې تر دې دمه هغه ډول ساتل شوی لکه څنګه چې نازل شوی و، او تر نن ورځې پورې د مسلمانانو په لاسونو په عربي ژبه دی؛ هغه ژبه چې په وروستي پیغمبر پرې نازل شوی دی.

د اسلام له بنسټونو څخه یو دا دی چې د الله تعالی له خوا په رالیږل شوو ټولو پیغمبرانو ایمان ولرو او دا چې هغوی ټول انسانان وو، الله تعالی يې په نښانو او معجزو سره مرسته کړې، او د دې لپاره يې رالیږلي چې خلک یوازې د هغه عبادت ته راوبلي، چې شریک نه لري.د رسولانو وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی، الله تعالی هغه له الهي شریعت سره رالیږلی چې له هغه وړاندې د نورو شریعتونو پای ته رسوونکی دی، هغه يې په لویو معجزو سره تائید کړی چې ترټولو ستره يې د رب العالمین کلام قرآن کریم دی، تر ټولو ستر کتاب چې تر دې دمه بشریت پېژندلی، (هغه کتاب چې) د مضمون، الفاظو، نظم او احکامو له اړخه معجزه کتاب دی، په دې کې د حق لوري ته لارښوونه ده چې په دنیا او آخرت کې انسان خوښۍ او نېکمرغۍ ته رسوي، او په عربي ژبه نازل شوی دی.

ډېری عقلي او علمي شواهد شته چې له شک پرته ثابتوي چې دا قرآن د خالق کلام دی، او دا چې امکان نه لري د بشر کتاب اوسي.

او د اسلام له بنسټونو څخه په ملائکو  او د اخرت په ورځ ایمان دی، چې الله تعالی به د قیامت په ورځ خلک له قبرونو څخه د اعمالو د حساب لپاره راپورته کوي، په داسې حال کې چې مؤمن به په جنت کې د ابدي نعمتونو خاوند وي، او چا چې کفر کړی او بد عملونه يې کړي نو د هغه لپاره به په دوزخ کې لوی عذاب وي، د اسلام له بنسټونو څخه دا دي چې په هغه څه ایمان ولرو  چې له خیر او شره څخه الله تعالی اندازه کړي دي.

د اسلام دین د ژوند لپاره یوه بشپړه تګلاره ده، چې له فطرت او عقل سره مطابقت لري او سالم نفسونه يې مني، لوی خالق خپلو مخلوقاتو ته قانون ګرځولی او دا د الله تعالی له خوا خلکو ته په دنیا او اخرت کې د خیر او نېکمرغۍ دین دی، هېڅ ټبر ته پر بل غوراوی نه ورکوي، او نه یو رنګ ته پر بل رنګ، ټول خلک پکې برابر دي، هېڅوک چې په چا برترۍ نه لري مګر د نیک عمل په اندازه.

الله تعالی فرمایلي:(مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِن فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰة طَيِّبَة وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ) (مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِن فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰة طَيِّبَة وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ)چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو، د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول.[النحل:97]

او له هغه څه نه چې الله تعالی پرې په قرآن کریم کې تاکید کړی دا دي چې په الله تعالی د رب او معبود، په اسلام د دین او په محمد صلی الله علیه وسلم د پیغمبر په توګه ایمان راوړل او په اسلام کې داخلېدل اړین کارونه دي چې انسان په کې هېڅ اختیار نلري؛ او د قیامت په ورځ به حساب او بدله وي، نو څوک چې ریښتینی مؤمن وي هغه لره کامیابي او لوی بریالیتوب دی، او چا چې کفر کړی وي نو هغه په ښکاره تاوان کې دی.

الله تعالی فرمایلي دي:(... وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰت تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ، (... وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰت تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ،او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ، (نو) هغه (الله) به يې داسې جنتونو ته ننباسي چې د هغو له لاندې به ويالې بهېږي، دوی به په هغو کې همېشه وي او دا بېخي لویه کامیابي ده،وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَاب مُّهِين) وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَاب مُّهِين)او چا چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه او د هغه (الله) له حدونو نه مخکې تېر شو، نو هغه (الله) به يې اور ته داخل کړي، چې په هغه کې به همېشه وي او د هغه لپاره سپکوونکی عذاب دی.[النساء:14-13].

او څوک چې اسلام کې د داخلېدو اراده ولري نو (أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله) دې ووايي، پداسې حال کې چې په معنا يې پوه وي او ایمان پرې ولري، نو پدې سره به مسلمان شي؛ بیا به د اسلام نور قوانین ورو ورو زده کوي، تر څو هغه کارونه تر سره کړي چې الله تعالی پرې فرض کړي دي.

اسلام
د فطرت، عقل او نېکمرغۍ دين
چا پيدا کړی يې؟
ايا شونې ده چې الله تعالی موږ يې پيدا کړي يو او بيا دې راځخه بې پروا شي او همداسې مو پرېږدي؟ ايا دا کېدی شي چې الله تعالی دا ټول مخلوقات پرته له کومې موخې او هدف څخه پيدا کړي؟
او څکه چې موږ پوهيږو چې شونې نده پدې دنيا کې ژوند وکړو او هېڅوک دې د خير او شر جزا و نه وينې؛ داسې چې نه ظالم ته جزا ورکړل شي او نه نيک عملو ته اجر او بدله.